
# د جنَّت خریدار

6-July-2023



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پہ 6 جولائي کال 2023ء د پاکستان پہ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# د جَنَّت خريدار

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنٹر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د آخري نبي رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې په ورځ کښې په ما باندې 1000 ځله درود شريف اولولي، هغه به تر هاغه وخته پورې نه مري، تر څو چې په جَنَّت کښې خپل ځائے اُونه ويني. (1)

نبی کی شان میں ہو جس قدر دُرُود پڑھو | مُحِبّو پاؤ گے جَنَّت میں گھر دُرُود پڑھو (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ [يعني] ښه نيت بنده جَنَّت ته داخلوي. (3)

---

1...الترغيب في فضائل الاعمال، صفحه:14، حديث:19

2...نورِ ايمان، صفحه:56.

3...مسند فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895.

اے عاشقانِ رَسُول! د ښو ښو نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي. د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې❀ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به تول بيان اورم ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ ښه په توجو به بيان اورم ❀ څه چې اورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش کوم.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اے اللّٰه پاکه! د عثمان نه راضي شې...!!

د غزوۀ تبوک موقع وه، د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان لښکر په سفر وو، په لاره کښې په يو ځائے کښې ډيره سخته پيښه شوه، د خوراک څښاک څيزونه ختم شو، سخته ګرمي وه، لوږه او تنده ډيره زياته شوه، په دې حالت کښې د صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان په مخونو باندې د خفګان نښې ښکاريدل شروع شوې او منافقان د دې حالت په ليدلو خوشحاليدل.

خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله دا حالت اوليدو نو د غيب خبر ئې ورکړو، هغه دا چې اوئې فرمائيل: په اللّٰه پاک مې دې قسم وي! د لـمر پريوتو نه مخکښې به اللّٰه پاک تاسو ته رزق راوليږي.

حضرت عثمان غني رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ هم په لښکر کښې موجود وو، هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ چې کله د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا فرمان واوريدو نو فوراً ئې انتظامات شروع کړل، هغوئي د غَلے نه ډک 7 اوښان واخستل او د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې ئې حاضر کړل، کله چې صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان دا اوښان اوليدل نو د

هغوئي په مخونو خوشحالي خوره شوه، بل خوا د منافقانو په مخونو غم خور شو. د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې چې کله هغه 7 اوښان وراندې کړے شول نو اوئې فرمائیل: دا څه دي؟ د چا له طرفه دي؟ عرض اوکړے شو: یَا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ستاسو په خدمت کښې تُحفه پیش کړې ده.

راوي وائي: خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې دا خبره واوریدله نو ما پخپله اولیدل، چې هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُعا د پاره لاسونه پورته کړل او دومره ئې اوچت کړل چې د سر مبارک نه ئې بره شول، بیا هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د پاره داسې دُعا اوفرمائیله چې هغوئي د چا د پاره په داسې دُعا کولو چرې هم نه وو لیدلے شوي. (1)

په یو روایت کښې دي: هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم [داسې] دُعا اوکړه چې: اے **اللّٰه** پاکه! زه د عثمان نه راضي یم ته هم د عثمان نه راضي شه. (2)

حضرت ابو سعید خدري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: ما خوږ آقا، د مدینے والا مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اولیدلو! چې هغوئي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټوله شپه د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د پاره دا دُعا کوله: اے **اللّٰه** پاکه! زه د عثمان نه راضي شُوم ته هم د ده نه راضي شه. (3)

اللّٰه سے کیا پیار ہے عثمانِ غنی کا | محبوبِ خُدا یار ہے عثمانِ غنی کا
گرمی پہ یہ بازار ہے عثمانِ غنی کا | اللّٰه خریدار ہے عثمانِ غنی کا(4)

[1] ... الریاض النضرة، الباب الثالث، الفصل السادس: ذکر اختصاصه ... الخ، جزء:3، صفحه:25 ملتقطاً.

[2] ... فضائل الصحابة احمد بن حنبل، جز:1، صفحه:484، حدیث:784.

[3] ... تاریخ مدینه دمشق، جلد:39، صفحه:54.

[4] ... ذوق نعت، صفحه:80 ملتقطاً.

## د عثمانِ غني رضی اللہ عنہ خوش قِسمتي

**اے د خوږ نبي** صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم **عاشقانو!** د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ خوش قسمتئ ته اوګورئ! قابِلِ رشک خبره ده، خوږ رسول، رسولِ مقبول صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ټوله شپه د هغوئي د پاره دُعا فرمائيله: يا **الله!** زه د عثمان نه راضي يم تهٔ هم د عثمان نه راضي شه.

اَللّٰہُ اَکْبَر! د چا نه چې محبوبِ خُدا، د دوارو جهانونو آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم راضي شي، د هغه نور څه پکار دي...!!

خدا کی رضا چاہتے ہیں دو عالَم | خدا چاہتا ہے رضائے مُحَمَّد(صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم) (1)

**وضاحت:** په دې شعر کښې اعلیٰ حضرت، امامِ عشق ومحبت رحمۃُ اللہِ علیہ د هٔغه حديثِ پاک طرفته اشاره فرمائيلې ده په کوم کښې چې دا بيان دے چې د قيامت په ورځ به **الله** پاک ټول مخکښني او وروستي راجمع کړي او خپل محبوب ته به فرمائي: كُلٌّ أَحَدٍ يَطْلُبُ رِضَایَ وَأَنَا أَطْلُبُ رِضَاكَ يعني اے محبوبه صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ! دا ټول زما رضا غواړي، خو اے زما محبوبه! زه ستا رضا غواړم. (2)

## رضائے مصطفٰے ميلاويدل معمولي خبره نه ده

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورو نـو!** ياد ساتئ! د محبوبِ خُدا، سرورِ انبيا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم رضا ميلاويدل څه عامه خبره نه ده، ډير لوئے فضيلت دے. امام محمد بن محمد غزالي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: په آخرت کښې به چې د **الله** پاک له طرفه جَنَّت والؤ ته د ټولو نه کوم لوئے انعام ميلاويږي، هغه د **الله** پاک **رضا ده.**

---

[1]...حدائق بخشش، صفحہ:65.

[2]... تفسیر کبیر، پارہ:2، البقرہ، زیر آیت:142، جلد:2، صفحہ:82.



www.dawateislami.net

اوس کتل دا دي چې د **اللّٰه** پاک رضا څنګه ميلاوېږي؟ سيدي اعلیٰ حضرت، امام اهلسنت شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

| | |
|---|---|
| بَہم عَہد باندھے ہیں وَصْلِ اَبَد کا | رضائے خُدا اور رضائے محمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) [1] |

**وضاحت:** يوه ده د **اللّٰه** پاک رضا، يو ده د محبوبِ خُدا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رضا، دې دواړو (رضائے خُدا او رضائے مصطفٰے) خپل مينځ کښې د هميشه هميشه د پاره دا پخه وعده کړې ده چې دواړه به يو ځائے اوسي، يعنې د چا چې د **اللّٰه** پاک رضا پکار وي، هغه دې محبوبِ خُدا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي کړي، د چا نه چې محبوبِ خُدا، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي شي، **اللّٰه** پاک به هم د هغه نه راضي شي.

معلومه شوه د چا نه چې د **اللّٰه** پاک محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راضي شي، هغه د آخرت د ټولو نه د لوئے انعام يعنې د **اللّٰه** پاک د رضا حقدار شي او د **اللّٰه** پاک په فضل سره حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هُغه د اوچتې مرتبې والا صحابي دے چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټوله شپه د هغوئي د پاره دُعا اوفرمائيله چې: يا **اللّٰه** پاکه! زه د عثمان نه راضي يم، تهٔ هم د هغه نه راضي شې.

اوس لږه اندازه اولګوئ چې! دا د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ څومره لوئے فضيلت دے.

| | |
|---|---|
| اللہ سے کیا پیار ہے عثمانِ غنی کا | محبوبِ خُدا یار ہے عثمانِ غنی کا |
| گرمی پہ یہ بازار ہے عثمانِ غنی کا | اللہ خریدار ہے عثمانِ غنی کا [2] |

---

1 ...حدائق بخشش، صفحہ:65.

2 ...ذوقِ نعت، صفحہ:80ملتقطاً.

## د خوږ مصطفٰے د راضي کولو کوشش کوئ!

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږ له پکار دي! چې مونږه هم د محبوبِ خُدا، سردارِ انبيا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د راضي کولو کوشش اوکړو ❁ نيک کارونه اوکړو ❁ د ګناهونو نه ځان بچ ساتو ❁ درودِ پاک لولو ❁ ذِکرُ الله کوو ❁ د قرآنِ کريم ډير ډير تلاوت کوو ❁ د مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غم ځپلي اُمت په غم کښې شريک شو ❁ عاشقانِ رسول سره خير خواهي اوکړو ❁ د امت په کار راشو، چې داسې کوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د الله پاک خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به زمونږ نه راضي شي، که رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راضي شو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! الله پاک به هم راضي شي.

کام وہ لے لیجئے! تم کو جو راضی کرے | ٹھیک ہو نامِ رضا تم پہ کروروں درود(1)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مختصر تعارُف

اے عاشقانِ رَسُول! ❁ حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے ❁ د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د والد محترم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ له طرفه ترور حضرت اُمِّ حکيم رَضِیَ اللہُ عَنْہَا لمسے دے يا داسې اُووائے چې لږ د لرې خپلولئ نه د مالکِ جَنَّت، قاسمِ نعمت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوريے کيږي ❁ د سابقينِ اَوَّلين نه دے يعنې په شروع کښې ئې اسلام قبول کړے وو، د اسلام په قبلولو کښې د هغوئي څلورم يا پينځم نمبر دے ❁ په عشره مبشره (يعني د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم له طرفه د جَنَّت زيرے اوريدونکو لسو صحابهٔ کرامو عليهمُ الرِّضوان) کښې دے ❁ سرکارِ اعظم، رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د

[1]...حدائق بخشش، صفحہ:271.



www.dawateislami.net

حضرت عثمان غني رضی اللہ عنہ سره دومره محبت کولو چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرله پسې د خپلو 2 شهزادګو [يعنې د يوې شهزادګۍ د وفات نه پس د خپلې بلې شهزادګۍ] د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ سره نکاح اوکړه. (1) اعلیٰ حضرت، امام اهلسنت رحمۃ اللہ علیہ دې طرف اشاره کوي او فرمائي:

نور کی سرکار سے پایا دوشالہ نُور کا | ہو مبارک تُم کو ذُوالنُّورَین جوڑا نُور کا

❀ په حديثِ پاک کښې دي: **الله** پاک ما ته وحي اوفرمائيله چې زه د خپلو 2 لونړو نکاح د عثمان سره اوکړم. (2) ❀ په يو حديثِ پاک کښې ئې فرمائيلي دي چې: که چرې زما 100 لونړه وے، په هغو کښې يوه وفات کيدلے نو ما به د بَلې نکاح د عثمان سره کولے، تر دې چې ما به د خپلو 100 واړو شهزادګو پرله پسې د يوې يوې نکاح د عثمان سره کړې وے. (3) ❀ د مولائے کائنات، مولیٰ علي رضی اللہ عنہ نه د حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ په باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو اوئې فرمائيل: عثمان هغه دے چې هغوئي ته فرښتے ذُوالنُّوْرَيْن وائي، د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خُوم دے، خوږ آقا، مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي له د جَنَّت زيرے ورکړے دے. (4)

نبی کے نور دو لے کر وہ ذُو النُّورَین کہلائے | انہیں حاصِل ہوئی یوں قربتِ محبوبِ رحمانی(5)

❀ د اسلام د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د شهادت نه پس د

---

1 ...نزہۃ القاری، جلد:1، صفحہ:544، خلاصۃً.

2 ... معجم الاوسط، جلد:2، صفحہ:346، حدیث:3501.

3 ...کنز العُمال، کتاب الفضائل، جُز:13، جلد:7، صفحہ:21، حدیث:36201.

4 ...ریاض النضرۃ، الباب الثالث، الفصل الثانی: فی اسمہ وکنیتہ، جز:3، صفحہ:6.

5 ...وسائل بخشش، صفحہ:584.



www.dawateislami.net

مسلمانانو په اکثريتي رائے سره حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ خليفه جوړ شو، تر 12 کالو پورې هغوئي خليفه وو، په 18 ذُوالحِجَّه 35 هجرئ کښې د لوږې او تندې تيرولو نه پس په ډير زيات ظلم سره شهيد کړے شو. (1)

امام الاَسخِیا کر دو عطا حِصّہ سخاوت کا | قناعت ہو عنایت، دیں نہ دولت کی فراوانی
مجھے اپنی سخاوت کے سمندر سے کوئی قطرہ | عطا کردو نہیں درکار مجھ کو تاجِ سلطانی (2)

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## هر صحابئ نبي...!! جَنَّتي! جَنَّتي!

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د **الله** پاک په فضل او کرم سره زمونږ د محبوب آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هر يو صحابي جَنَّتي دے. **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ (پاره:27، سورۂ حديد:10)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: او دې ټولو سره **الله** د ټولو نه د ښه خيز [يعني د جنّت] وعده فرمائيلې ده.

په دې آيت مبارک کښې فرمائيلے شوي دي چې د صحابۂ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره **الله** پاک د حُسْنٰى وعده فرمائيلې ده، د چا سره چې د حُسْنٰى وعده اوفرمائيلے شي، د هغه شان څه وي؟ دا هم د قرآنِ کريم نه واورئ! **الله** پاک فرمائي:

اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنٰۤى ۙ

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: بيشکه د کومو خلقو د پاره چې زمونږه د

---

1...نزہۃ القاری، جلد:1، صفحہ:544-545ملتقطاً.

2...وسائل بخشش، صفحہ:585.



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| أُولَٰٓئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ حَسِيْسَهَا ۚ وَ هُمْ فِيْ مَا اشْتَهَتْ اَنْفُسُهُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَ تَتَلَقّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ (پارہ:17، سورۂ انبیاء:103101) | بنيګړي وعده د مخکښې نه شوې ده هغوئي به د دوزخ نه لرې ساتلے کيږي (۱۰۱) هغوئي به د هغې کمزورے شان آواز هُم نه اوري او هغوئي به د خپل زړه د خوښې په نعمتونو کښې هميشه اوسيږي (۱۰۲) هغوئي به د ټولو نه زياته ويره نه غمژن کوي او فرښتے به د هغوئي استقبال کوي چې دا ستاسو هٰغه ورځ ده د کومې به چې تاسو سره وعده کيدله (۱۰۳) |

په دې آيت مبارک کښې اووئيلے شو چې د چا سره الله پاک د حُسْنٰى وعده فرمائيلې ده، هغوئي له به 5 فضيلتونه ورکولے شي: (1): هغوئي به د دوزخ نه لرې ساتلے کيږي (2): هغوئي به د دوزخ لږ شان آواز هم نه اوري (3): هغوئي به د خپلې خوښې په مرادونو کښې د هميشه د پاره وي (4): د قيامت په لويه ويره کښې به د هغوئي سره هيڅ ويره نه وي (5): فرښتے به د دې وئيلو سره د هغوئي استقبال کوي چې : دا ده هٰغه ورځ د کومې چې ستاسو سره وعده شوې وه.

د دې دواړو آيتونو نه معلومه شوه: چې د صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان سره د حُسْنٰى وعده شوې ده، ځکه د ټولو صحابۀ کرامو دا شان دے چې هغوئي به د دوزخ نه لرې ساتلے کيږي، د دوزخ لږ شان آواز به هم نه اوري، هميشه به د خپلې خوښې په مُرادونو

کښبې اوسي، د قیامت په لویه ویره کښبې به د هغوئي سره هیڅ ویره نه وي او د **الله** پاک په کرم سره به فرښتے د قیامت په ورځ د هغوئي استقبال کوي.

| | |
|---|---|
| کیوں نہ ہو رُتبہ بڑا اَصحاب و اَہلِ بیت کا | ہے خُدائے مصطفےٰ اَصحاب و اَہلِ بیت کا |
| آل و اَصحابِ نبی سب بادشہ ہیں بادشاہ | میں فقط ادنیٰ گدا اَصحاب و اَہلِ بیت کا |
| فضلِ رَبّ سے دو جہاں میں کامیابی پائے گا | دِل سے جو شیدا ہوا اَصحاب و اَہلِ بیت کا |

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابئ نبی! | جَنَّتی! جَنَّتی! | تولې صحابیاتې هُم! | جَنَّتی! جَنَّتی! |
| څلور یاران د نبی! | جَنَّتی! جَنَّتی! | حضرت صدیق هُم! | جَنَّتی! جَنَّتی! |
| حضرتِ فاروق هُم | جَنَّتی! جَنَّتی! | عثمان غنی! | جَنَّتی! جَنَّتی! |
| فاطمه او علی! | جَنَّتی! جَنَّتی! | دي حسن حسین هُم! | جَنَّتی! جَنَّتی! |
| تولې بیبیانې د نبی! | جَنَّتی! جَنَّتی! | او معاویه هُم! | جَنَّتی! جَنَّتی! |

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## عثمانِ غني...!! جَنَّتي! جَنَّتي!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** هسې خو هر یو صحابي جَنَّتي دے، البته د مسلمانانو دریم خلیفه حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ هغه خوش قِسمته صحابئ رسول دے چې هغوئي له مالکِ جَنَّت، قاسمِ نعمت، رسولِ رحمت صلی اللہ علیہ والہ وسلم یو ځل نه بلکه ډیر ځله د جَنَّت زیرے ورکړے دے. راځئ چې یو څو مبارک حدیثونه واورو: ❁ د حضرت ابو هریره رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائیل: لِكُلِّ نَبِيٍّ رَفِيْقٌ وَ رَفِيْقِيْ يَعْنِىْ فِى الْجَنَّةِ عُثْمَانُ په جَنَّت کښبې به د هر

نبي عَلَيْهِ السَّلَام يو ملګرے وي او زما ملګرے عثمان بن عفّان دے. [1]

❁ صحابئ رسولِ سلطانُ الـمفسرين حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ سركارِ عالي وقار، مكي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اوس به په دې لاره يو جَنَّتي كَس راځي، مونږ چې اوكتل نو حضرت عثمان بن عفّان رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تشريف راوړلو. [2]

## دوئي له د جَنَّت زيرے وركړئ!

❁ صحابئ رسول حضرت ابو موسىٰ اَشعري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ زه د رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د مدينے د باغونو نه په يو باغ كښې ووم، يو كَس راغلو او دروازه ئې اوډبوله، سركارِ عالي وقار، مكي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِفْتَحْ لَهٗ وَ بَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ د ده د پاره دروازه برسيره كړه او ده له د جَنَّت زيرے وركړه. فرمائي: ما چې دروازه برسيره كړه نو حضرت ابوبكر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وو، ما هغوئي له د جَنَّت زيرے وركړو. هغوئي د **الله** پاک شكر ادا كړو. څه وخت پس بيا دروازه اوډبولے شوه، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِفْتَحْ لَهٗ وَ بَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ د ده دپاره دروازه برسيره كړه او ده (يعني راتلونكي) له د جَنَّت زيرے وركړه! حضرت ابو موسىٰ اشعري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما دروازه برسيره كړه دا راتلونكے حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وو، ما هغوئي له هم د جَنَّت زيرے وركړو، هغوئي هم د **الله** پاک شكر ادا كړو (او په بارګاهِ رسالت كښې حاضر شو). څه وخت پس په دريم ځل

---

[1] ...ترمذی، ابواب المناقب...الخ، باب مناقب عثمان...الخ، صفحہ:842، حدیث:3707.

[2] ...فضائل الصحابہ لاحمد بن حنبل، صفحہ:454، حدیث:732.



www.dawateislami.net

دروازه اوډبولے شوه، په دې ځل د غيبو د خبرو نه خبر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اِفْتَحْ لَهٗ وَ بَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلٰى بَلْوٰى تُصِيْبُهٗ يعنې دروازه برسيره کړه او راتلونکي ته اووايه چې يو مصيبت کوم چې به ده ته رَسي، د هغې نه پس دا جَنَّتي دے.

حضرت ابو موسىٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما دروازه برسيره کړه نو حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو، ما هغوئي له هم د جَنَّت زيرے ورکړو او دا مې ورته هم اووئيل چې نزدې ده چې هغوئي ته به يو امتحان پيښيږي، حضرت عثمانِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د جَنَّت په زيري ميلاويدو د **الله** پاک شکر ادا کړو او اوئې وئيل: اَللهُ الْمُسْتَعَانُ **الله** مددګار دے (يعنې ما ته چې به کوم مصيبت رارسي، د **الله** پاک په مدد سره به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! زه په هغې کښې کاميابيږم).

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا حديثِ پاک کوم چې اوس مونږ واوريدو، دا په **بُخاري شريف** کښې 6 ځله ذِکر شوے دے، هم دغسې دا حديثِ پاک په نورو ډيرو کتابونو کښې هُم موجود دے، د دې حديثِ پاک نه **2** خبرې معلومې شوې: (1)[يوه خبره دا چې] اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مسلمانانو وړومبے، دويم او دريم خليفه حضرت ابوبکر، عمر فاروق او عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُم جَنَّتيان دي.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې حديثِ پاک کښې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **3** خوږو ملګرو ذِکر شوے دے، راځئ چې د دوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د څلورم ملګري يعنې د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت عليُّ الْمُرْتَضٰى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذِکرِ خير هم واورو، حضرت سعيد بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما د رسولُ الله صَلَّى الله

عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان واريدو: عَلِیٌّ فِی الْجَنَّة يعني حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ جَنَّتي دے.[1]

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابئ نبي! | جَنَّتي! جَنَّتي! | خلور ياران د نبي! | جَنَّتي! جَنَّتي! |

(2): [او دويمه خبره دا چې] خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په باره كښې يو بَل د غيبو خبر هم ورکړو، اوئې فرمائيل: يو مصيبت كوم چې به هغوئي ته پيښيږي، د هغې نه پس هغه جَنَّتي دے. دا مصيبت حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته د هغوئي د خِلافت په آخرئ زمانه كښې اورسيدو، بعضې شريانو باغيانو د هغوئي د كور مبارک نه گيره واچوله، په دې سبب د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د كور نه وَتَل او خوراک څښاک وغيره بند شو، آخر د دې مظلوميت په حالت كښې هغوئي شهيد كړے شول. دا دے هغه مصيبت كوم چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ته اورسيدو، خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څو كلونه مخكښې د دې خبر وركړے وو. معلومه شوه: چې د اللّٰه پاک په عطا سره د اللّٰه محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د راتلونكي سبا، د ډيرو كلونو پس، په سوؤنو كلونو پس بلكه تر قيامته پورې بلكه د قيامت نه پس پورې خبرو نه هُم خبر دے.

| | |
|---|---|
| جو ہو چکا ہے جو ہو گا حضور جانتے ہیں | تیری عطا سے خُدایا حضور جانتے ہیں |
| وہی ہیں پیکرِ شرم و حیا و ذُو النُّورَین | مقام ان کی حیا کا حُضُور جانتے ہیں |

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د جَنَّتِ عَدن حُوره

حضرت عُقبه بن عامِر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: رسولِ ذيشان، مكي مدني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ

[1] ... مصنف ابن ابی شیبہ، کتاب الفضائل، فضائل علی بن ابی طالب رَضِیَ اللّٰہُ عنہ، جلد:7، صفحہ:505، حدیث 67.



www.dawateislami.net

وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي چې: د معراج په شپه زه جَنَّتِ عدن ته داخل شوم، هلته د غټو سترګو والا يوه ښکلې حُوره وه، ما د هغې نه پوښتنه اوکړه: لِمَنْ اَنْتِ؟ ته د چا د پاره ئې؟ حُورې اووئيل: ستاسو صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظُلماً شهيد کړے شوي خليفه عثمانِ بن عفّان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د پاره. (1)

جس آئینہ میں نورِ الٰہی نظر آئے | وہ آئینہ رخسار ہے عثمانِ غنی کا(2)

## آيا په جَنَّت کښې به رڼا پړقيږي؟

حضرت سهل بن سعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: يو ګَس د مدينے د سرکار، د زړونو د قرار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه اوکړه: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! آيا په جَنَّت کښې به رڼا پړقيږي؟ اوئې فرمائيل: آو! په هٰغه ذات مې دې قسم وي د چا په قبضۀ قدرت کښې چې زما ځان دے! عثمان چې به د يو منزل نه د بَل منزل په لور ځي نو د هغه د پاره به په جَنَّت کښې رڼا پړقيږي. (3)

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د جَنَّت خريدار

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يقيناً قطعي يقيني جَنَّتي دے. د جَنَّتي کيدو په حيثيت سره د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يو ځانګړے خاصيت دا هم دے چې هغوئي يو ځل نه بلکه بيا بيا پخپله د مالکِ جَنَّت، قاسمِ نعمت صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1...فضائل الصحابہ لاحمد بن حنبل، صفحہ:522-523، حدیث:864ملتقطاً.

2...ذوقِ نعت، صفحہ:81.

3...فضائل الخلفاء الأربعة، ذکر فضيلة اخرى لذی النورين... الخ، صفحہ:62، حديث:45.



www.dawateislami.net

نه باقاعده جَنَّت اخستے هُم دے. هغوئي كله كله؟ او څنګه څنګه جَنَّت واخستو؟ راځئ چې د دې واقعے واورو:

## د مسجد الحرام توسيع

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ د لـمسي حضرت سالِم بن عبد الله رضی اللہ عنہ نه روايت دے، يو ځل د مسجد حرام شريف (يعني چرته چې خانه كعبه ده، د دې جُمات) د فراختيا ضرورت وو، د دې د پاره نزدې يو كور اخستل وو، سركارِ عالي وقار، مكي مدني تاجدار صلی اللہ علیہ والہ وسلم د هغه كور مالک ته اوفرمائيل: تهٔ دا كور د مسجدِ حرام د فراختيا د پاره راكړه! زه تا له د جَنَّتي كور ضمانت دركووم. هغه ګس ته كيدے شي چې د دې ضمانت د اهميت معلومات نه وو، نو هغه د كور وركولو نه انكار اوكړو. حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ ته چې كله د دې خبرې پته اولګيده نو هغوئي زر د هغه كور د مالک خوا له تشريف يوړلو، هغه ئې مسلسل پوهه كولو، د هغه ذهن ئې [د كور خرڅولو دپاره] جوړولو، آخر ئې هغه د كور په خرڅولو رضا كړو او 10 زره ديناره (يعني لس زره د سرو زرو سِكو) په بدله كښې ئې هغه كور واخستو او په بارګاهِ رسالت كښې حاضر شو، عرض ئې اوكړو: يا رسولَ الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم ! زه خبر شوے يم چې د فلانكي كور په مسجدِ حرام كښې په شاملولو باندې تاسو د جَنَّتي كور ضمانت وركړے دے، اوس هغه كور زما دے، آيا تاسو ما له هم هغه ضمانت راكوئ. خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: **نَعَمْ!** يعني آو! ستا د پاره هم هغه ضمانت دے. دا ئې چې واوريدل نو حضرت عثمانِ غني رضی اللہ عنہ هغه كور د مسجدِ حرام د پاره وقف كړو. (1)

1... فضائل الصحابہ لاحمد بن حنبل، صفحہ:484،حديث:784.

## (1): د مسجدِ نبوي د توسيع په بدل كښې جَنَّت

هُم دغه شان يو ځل د مسجدِ نبوي شريف توسيع كول وو، په خوا كښې ئې د زمكې يوه ټكړه وه، مالكِ جَنَّت، قاسم نعمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې پلاټ په جمات كښې شاملولو باندې د جَنَّتي كور زيرے واورولو، څنګه چې حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې نه خبر شو، هغوئي زر د هغه پلاټ د مالک خوا له لاړلو، پلاټ ئې واخستو او د مسجدِ نبوي شريف د پاره ئې وقف كړو. (1)

## (2): د كجورو د باغ په بدل كښې ئې جَنَّت واخستو

روايت دے: په مدينهٔ پاک كښې د بَنُو نَجّار د كجورو يو باغ وو، سركارِ عالي وقار، مكي مدني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک دے چې دا باغ واخلي او جُمات ترينه جوړ كړي؟ هغه وخت هم حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوړاندې شو، هغه باغ ئې واخستو او جُمات ئې ترينه جوړ كړو، په دې باندې مالكِ جَنَّت نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي سره د جَنَّتي باغ وعده اوفرمائيله. (2)

سُبْحٰنَ الله! د حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څومره ښكلے شان دے. د هغوئي د جُمات جوړولو سره څومره شوق وو، چې د مسجدِ حرام شريف د فراختيا ضرورت شو حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځانئے پيش كړو، چې د مسجدِ نبوي شريف د فراختيا ضرورت شو نو هُم ځانئے حضرت عثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پيش كړو، د دې نه علاوه هم جُماتونه جوړول، د جُمات په جوړولو كښې برخه اخستل د هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پاكو صفتونو نه دي.

---

1... معجم كبير، باب ماجاء في لبس العمائم والدعاء، جلد:1، صفحه:146 حديث:522.

2... فضائل الصحابه لاحمد بن حنبل، 1/484، حديث:784.

# جُمات جوړول د انبياء سُنت دي

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** ياد ساتئ! جُمات جوړول **سُنتِ انبياء** دي. په دُنيا کښې 3 جُماتونه د ټولو نه افضل دي: ﴿1﴾ مسجدِ حرام (چرته چې کعبه شريفه ده) ﴿2﴾ مسجدِ نبوي شريف ﴿3﴾ مسجدِ اقصىٰ. دا درې واړه جُماتونه د **اللّٰه** پاک نبيانو عَلَيۡهِمُ السَّلَام جوړ کړي دي. مسجدِ حرام په وړومبي ځل حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام جوړ کړو او د طوفانِ نُوح نه پس حضرت ابراهيم عَلَيۡهِ السَّلَام جوړ کړو. د مسجدِ اقصىٰ د ټولو نه وړومبے بنياد حضرت يعقوب عَلَيۡهِ السَّلَام کيښودو، وروستو حضرت سليمان عَلَيۡهِ السَّلَام د دې تعمير پوره کړلو او د مسجدِ نبوي شريف خو ډير ښکلے شان دے چې دا مبارک جُمات د ټولو نه افضل نبي، رسولِ هاشِمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپلو مبارکو لاسونو تعمير کړو.

کاش! مونږ ته هم د جُمات جوړولو توفيق رانصيب شي. ❁ که **اللّٰه** پاک چا له وَس ورکړے وي نو پوره جُمات هم جوړول پکار دي، ډيره د سعادت خبره ده. ❁ که څوک دومره وَس نه لري نو خير...!! چې **اللّٰه** پاک څومره وَس ورکړے وي د جُمات په جوړولو او د هغې په ترقئ کښې دې د خپل وَس مناسب برخه واخلي! ❁ د جُمات جوړولو د پاره شَګه، سيمنټ وغيره راوړل، ❁ په جُمات کښې ضرورتاً ټائلونه وغيره لګول، ❁ د جُمات د اوداسه ځائے جوړول، ❁ منبر جوړول، ❁ د صفونو انتظام کول وغيره دا ټول د جُمات د جوړولو او ترقئ حصّه ده. په دې کښې د خپل وَس مطابق برخه لازمي اخستل پکار ده. په حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره جُمات جوړ کړي، **اللّٰه** پاک د هغه د پاره په جَنَّت کښې کور جوړوي. (1)

---

1...ابنِ ماجه، کتاب المساجد والجماعات، باب من بنى لله مسجدا، صفحه:127، حديث:737.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي جُمات جوړ کړئ تحريک هم دے او جُمات ډَک کړئ تحريک هم دے يعنې دعوتِ اسلامي جُماتونه هم جوړوي، بيا د جُمات د آبادولو او د آباد ساتلو هم پوره کوشش کوي. په ملک او بهر ملکونو کښې ئې تر اوسه پورې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په سوؤنه جُماتونه جوړ کړي دي. تاسو هم په دې نيک کار کښې دعوتِ اسلامي سره مرسته اوکړئ! که همت او وَس لرئ نو ټول جُمات جوړ کړئ! که دا نه شئ کولے نو چې څومره کولے شئ د دعوتِ اسلامي سره مرسته اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! چې جُمات جوړ شي، تر سوونو کالو پورې به پکښې خلق لمونځونه کوي او زمونږ به ثواب کيږي. اللّٰه پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## (3): د بِئرِ رُومَه په بدله کښې جَنَّتي چينه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِىَ اللّٰه عَنْهُ د جَنَّت خريدار دے، هغوئي يو ځل نه بلکه څو څو ځله جَنَّت اخستے دے. په دې باره کښې يوه واقعه ډيره مشهوره ده. کله چې صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان هجرت اوکړو او مدينے منوّرے ته راغلل نو دلته د اوبو د کمي سره مخ شو، هغه وخت په مدينهٔ منوره کښې يو کوهے وو، چې هغې ته بِئرِ رُومَه وئيلے شي، د دې کوهي مالک به اوبه خرڅولې، خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا ضمانت ورکړو چې دا کوهے چا د مسلمانانو د پاره وقف کړو نو هغه ته به د دې په بدله کښې جَنَّتي چينه عطا کړے شي. حضرت عثمانِ غني رَضِىَ اللّٰه عَنْهُ چې کله د دې خبرې نه خبر شو نو هغوئي رَضِىَ اللّٰه عَنْهُ

هغه کوهے واخستو او د **الله** پاک په لاره کښې ئې وقف کړو. (1)

## اے اللّٰه! د عثمان د پاره جَنَّت لازم کړې

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې مبارک کوهي په شان او عظمت باندې لکونه سلامونه چې د دې مبارک کوهي نه د **الله** پاک د خوږ حبيب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوبه څښل هم ثابت دي. په روايتونو کښې دي: يو ځل رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دغه ځائے تيريدلو نو عرض اوکړے شو چې يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا هُغه کوهے دے کوم چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اخستے وو او صدقه کړے ئې وو. دا ئې چې واوريدل نو هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه: اے **الله** پاکه! د عثمان د پاره جَنَّت لازم کړې. بيا هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه کوهي نه اوبه اوڅښلې او اوئې فرمائيل: په دې دَرَه کښې به ډيرې زر ډيرې چينې راووځي کومې چې به ډيرې خوږې وي خو بئرِ مُزني (يعني بئرِ رُومه) به د هغه ټولو نه خوږ وي. (2)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې روايت نه دا هم معلومه شوه چې د مسلمانانو دريم خليفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مسلمانانو ډير خير خوا وو، هغوئي په سخته کښې د خپلو مسلمانانو ورونړو د پاره کوهے واخستو او وقف ئې کړو.

کاش! چې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په وسيله مونږ هم خير خواهئ والا جوړ شو، ❁ چې اُوږي مړوو او ❁ په تږو اوبه څښو، ❁ وَچې علاقے چرته چې د اوبو کمے وي، هلته د اوبو انتظام کوو، ❁ د پريشان حالو په کار راشو، ❁ کوم خلق چې غم ځپلي دي د هغوئي په غم

---

1... معجم كبير، جلد:1، صفحه:316، حديث:1212.

2... سبل الهدى والرشاد، ابواب سيرته... الخ، باب الاول فى كان يستعذب... الخ، جلد:7 صفحه:227.



www.dawateislami.net

کښې شریک شو، ❁ د بې وسو سره امداد اوکړو، غرض دا چې مونږ د مسلمانانو په کار راتلونکي، د هغوئي خیر خواه او خومره چې کیدے شي نورو ته فائده رسوونکي جوړ شو.

## 60 حدیثونه، 25 فائدے

د سیدي اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې یو ځل پوښتنه اوکړے شوه، د هغې خُلاصه دا وه چې په قحط وغیره کښې خلق د چندے کولو په ذریعه خلقو له ډوډئ ورکوي، د دې څه حکم دے؟ اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د دې په جواب کښې 60 حدیثونه اولیکل، بیا ئې اوفرمائیل: د دې حدیثونو نه ثابته شوه چې کوم مسلمان په دې عمل (یعنې چنده کولو او د وږو تږو د خیر خواهۍ اهتمام کولو) کښې په نیک نیتۍ او د پاک مال سره شریکیږي، هغوئي ته د **اللہ** پاک په کرم سره د **25** فائدو میلاویدو امید دے: **(1):** اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د بد مرګ نه به بچ کیږي **(2):** په عمر کښې به ئې برکت کیږي **(3):** رزق به ئې فراخه کیږي او مال به ئې ډیریږي **(4):** خیر او برکت به حاصلوي **(5):** د آفتونو او بلاګانو نه به په حفاظت کښې اوسي **(6):** د بدۍ **70** دروازے به پرې بندې شي **(7):** ښارونه به آباد شي **(8):** بد خالي به ختمه شي **(9):** ویره به ئې ختمه شي، د زړه سکون به ئې نصیب شي **(10):** د **اللہ** پاک مدد به ورسره شامِلِ حال وي **(11):** د **اللہ** پاک رحمت به ورله واجب شي **(12):** فرښتے به پرې درود [یعنې د رحمت دعاګانې] رالیږي **(13):** د نیک کارونو توفیق به ورته میلاویږي **(14):** د **اللہ** پاک د غضب نه به ورته نجات میلاویږي **(15):** ګناهونه به ئې بخښلے کیږي **(16):** بخښنه به ورله واجب شي **(17):** د غلام آزادولو نه به ئې زیات ثواب کیږي **(18):** وران کارونه به ئې سمیږي **(19):** په خپل مینځ کښې به ئې مینه زیاتیږي **(20):** په خوراک



www.dawateislami.net

کښې به ئې برکت نصیب کیږي **(21):** د **اللّٰه** پاک په بارګاه کښې به ئې درجے اوچتیږي **(22): اللّٰه** پاک به په پرې د فرښتو په مخکښې فخر کوي **(23):** د قیامت په ورځ به د دوزخ نه په امان کښې وي **(24):** په آخرت کښې به ئې د **اللّٰه** پاک رحمت او احسان نصیب کیږي **(25):** او که **اللّٰه** پاک اوغواړي نو د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په وسیله به ئې د ټولو نه وړومبے جَنَّت ته تلل نصیب کیږي.

## سوشل ویلفیئر [خیر ښیګړه] او دعوتِ اسلامي

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي خلقو سره د دین د خبرو او د لمونځ ښودلو او د روژے، حج او زکوٰة د احکامو ښودلو او د سُنتو نمونه جوړولو، د نیکئ د دعوت ورکولو، د نیک لمونځ ګزاره جوړولو ښیګړه کوي، خو د دې سره سره د دعوتِ اسلامي یو ډیپارټمنټ دے: ***FGRF***. د دې ډیپارټمنټ بنیادي مقصد د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غم ځپلي اُمت سره خیر خواهي کول، غم خواري کول، که څه ناڅاپه آفت مثلاً خدائے دې نه کړي زلزله راشي، سیلاب راشي نو فوراً په امدادي کارونو کښې برخه اخستل دي.

تاسو هم د دعوتِ اسلامي سره مرسته اوکړئ! ***FGRF*** سره ډیر ډیر مالي امداد اوکړئ! ستاسو په ورکړي شوي رقم به د غم ځپلو غم لرې شي، د مریضانو د علاج ذریعه به جوړه شي، د غریبانانو، بے وسو امداد به کیږي، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د دې به بے شمیره فائدے درنصیب شي. **اللّٰه** پاک دې مونږ ټولو له د عمل کولو توفیق راکړي.

هو مرا کام غریبوں کی حمایت کرنا | درد مندوں سے، ضعیفوں سے محبت کرنا
دُور دُنیا کا مرے دم سے اندھیرا ہو جائے | ہر جگہ میرے چمکنے سے اجالا ہو جائے

میرے اللہ! برائی سے بچانا مجھ کر | نیک جو راہ ہو اس راہ پہ چلانا مجھ کو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د آخرت د پاره کوشش کوئ...!!

**الله** پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَ ابْتَغِ فِيْمَاۤ اٰتٰىكَ اللّٰهُ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ

(پارہ20، سورۃ القصص:77)

[مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالعِرفان: او کوم مال چې تا لره **الله** درکړے دے د هغې په ذریعه د آخرت کور طلب کړه.

معلومه شوه: چې کوم مال مونږ له **الله** پاک راکړے دے، د هغې په ذریعه د آخرت بهتري لټول پکار دي، خپل مال په داسې کارونو کښې لګول پکار دي چې بنده پرې د جَنَّت حق دار جوړ شي، مثلاً **الله** پاک مال درعطا کړے دے نو جُمات جوړ کړئ! مدرسه جوړه کړئ، په عِلمِ دِین زده کوونکو عاشقانِ رسول طالب علمانو باندې ئې اولګوئ! د غریبانانو مدد اوکړئ! د یتیمانانو، بے وسو امداد اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! **الله** پاک به راضي شي، ثواب به مو هم کیږي او که **الله** پاک اوغواړي نو په قبر او حشر کښې به د آسانئ سره سره جَنَّت هم درنصیب شي.

راځئ چې د ترغیب د پاره د صدقے مختصر شان یو څو حدیثونه واورو:

## د صدقے مختصر فضیلتونه

د روایتونو مطابق ❁ صدقه ګناهونه داسې ورانوي لکه څنګه چې اوبه اور مړ



www.dawateislami.net

كوي (1) ❁ صدقه د دوزخ د اور نه بچ كول كوي، په حديثِ پاک كښې دي: څوک چې د **الله** پاک د رضا د پاره صدقه اوكړي نو هغه صدقه د هغه او د اور ترمينځه پرده جوړه شي (2) ❁ صدقه د **الله** پاک غضب لرې كوي او بد مرګ لرې كوي (3) ❁ **د خوږ مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان**: په صدقه وركولو كښې تادي اوكړئ ځكه چې بلا د صدقے نه نه اوړي (4) ❁ صدقه كوونكے به د قيامت په ورځ د خپلې صدقے په سوري [سايه] كښې وي (5) ❁ صدقه د بدئ 70 دروازې بندوي (6) ❁ صدقه د قبر د ګرمئ نه بچ كول كوي (7) ❁ د مسلمان صدقه د هغه عمر زياتوي (8) ❁ **الله** پاک د صدقے په بركت سره تكبر لرې كوي (9) ❁ صدقه د 70 قسمه بلاګانې منع كوي چې په هغو كښې د ټولو نه كمه بلا د بدن ورانيدل او سپين داغونه [برګے] دے. (10)

**الله** پاک دې مونږ ته د زړه د اخلاصه د صدقے او خيرات كولو او مال د نيكئ په كارونو كښې د استعمالولو په ذريعه د جَنَّت حق دار جوړيدل رانصيب كړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

---

[1]... ابنِ ماجه، كتاب الفتن، باب كف اللسان فى الفتنة، صفحه:649، حديث:3973.

[2]... معجمِ كبير، جلد:10، صفحه:409، حديث:20584.

[3]... ترمذى، كتاب الزكاة، باب ماجاء فى فضل الصدقه، صفحه:189، حديث:664.

[4]... مشكاة المصابيح، كتاب الزكاة، باب الانفاق وكراهيه...الخ، جز:1، جلد:1، صفحه:359، حديث:1887.

[5]... سنن كبرى للبيهقى، كتاب الزكاة، باب التحريض على...الخ، جلد:4، صفحه:379، حديث:7751.

[6]... معجمِ كبير، جلد:3، صفحه:148، حديث:4276.

[7]... شُعَبُ الْاِيمان، جلد:3، صفحه:212، حديث:3347.

[8]... معجمِ كبير، جلد:6، صفحه:440، حديث:13508.

[9]... معجمِ كبير، جلد:6، صفحه:440، حديث:13508.

[10]... تاريخ بغداد، جلد:8، صفحه:204.



www.dawateislami.net

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني قافله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نيک جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د دې په ذريعه د الله پاک د محبت حاصلولو د کوشش کولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي په مدني قافلو کښې د سفر کولو معمول جوړ کړئ، د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د عاشقانِ رسول صحبت درميلاو شي، د علمِ دِين زده کول به درنصيب شي، د نيکو کولو، د ګناهونو نه د بچ کيدو ذهن به مو جوړ شي او د ټولو نه اهمه خبره دا چې د سُنتِ انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام يعنې د نيکئ د دعوت عام کولو موقع به درنصيب شي.

## د ګناهونو نه نجات ميلاو شو

د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: زه د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتللو نه مخکښې د ګناهونو په کندو کښې سرګردانه ګرځيدم، شراب څښل، مور پلار تنګول، لـمونځونه قضا کول زما معمول وو. يوه ورځ زما خوږئي ما ته په مدني قافله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، ما د لم ليټ نه کار اخستو خو هغه هِمّت اونه بيلو او پرله پسې ئې دعوت راکولو، آخر زه يو ځل د مدني قافلے مسافر جوړ شوم، د مدني قافلے په موقع د نيکئ د دعوت او د سنتو نه ډکو بيانونو اوريدو موقع راته ميلاو شوه، ورسره ورسره راته د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهمُ الْعَالِيَه د مختلفو رسالو لوستلو سعادت هُم رانصيب شو، بس د دې ټولو خيزونو په ما باندې داسې اثر اوشو چې په زړه کښې مې انقلاب راغلے، ما د ګناهونو نه رښتوني پخه توبه کړه، شراب مې پريښودل، لـمونځونه مې شروع کړل او د مور پلار

فرمانبردار جوړ شوم، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مدني قافلے په برکت ما ګيره هُم پريښوده، عمامه مې هُم په سر کړه، او اوس زه په يو جُمات کښې مؤذِن يم او پينځه وخته لـمونځونه د جَمعې سره د ادا کولو سعادت حاصلووم. [1]

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم، چاہئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "ماهنامه فيضانِ مدينه" ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ماهنامه فيضانِ مدينه ايپلي کيشن جاري شوے دے، په دې ايپلي کيشن کښې تر اوسه پورې جاري شوې ماهنامے په ***PDF*** شکل کښې موجودې دي، د دې نه علاوه ❁ د ټولو ماهنامو مضامين (آرټيکلز) په تحريري شکل کښې موجود دي، چې هغه د کاپي کولو په ذريعه شيئر کيدے هم شي ❁ د سهولت دپاره سرچ آپشن (***Search option***) هُم ورکړے شوے دے چې د دې په مدد په ټولو ماهنامو کښې کوم مضمون غواړئ لټولے شئ. تاسو هُم په خپل سمارټ فون کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ (***Download***) کړئ! پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د بعضو

---

[1]...شرابی مؤذن کیسے بنا؟، صفحہ:15.



www.dawateislami.net

آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوكړو هغه زما سره محبت اوكړو او چا چې زما سره محبت اوكړو هغه به په جَنَّت كښې زما سره وي. (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## عيادت (يعني د بيمارتپوس كول) سُنَّتِ مصطفٰـى دے

دوه فرامينِ مصطفٰـى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1) څوک چې د مريض تپوس كوي هغه د جنّت په باغ كښې كښيني، كله چې هغه اودريږي نو 70 زره فرښتې د شپې پورې د هغه د پاره دُعا كوي.[2] (2) څوک چې د ثواب په طمع د خپل مسلمان ورور تپوس اوكړي، هغه به د دوزخ نه د 70 كالو په فاصِله لرې كړے شي.[3]

اے عاشقانِ رَسُول! د مريض تپوس كول سُنَّتِ مصطفٰـى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلكه سُنَّتِ انبياء دے ❁ د خوږ نبـي رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې د كوم يو صحابي (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) د بيمارئ خبر به ورته ميلاؤ شو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه د تپوس د پاره تشريف وړلو ❁ كه چرې يو كَس به 3 ورځې جُمات ته رانغلو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه په باره كښې د خلقو نه پوښتنه كوله، كه چرې هغه به بيمار وو نو د هغه تپوس له به تللو[4] ❁ او كه چرې د تپوس كولو د پاره به د مدينے

---

[1]... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343.

[2]...شعب الایمان، مریض کی عیادت کا باب،جلد:6، صفحہ:531،حدیث:9171۔

[3]...ابو داؤد ،کتاب:جنائز ، باب :وضو میں عیادت کی فضیلت، صفحہ: 500، حدیث:3097۔

[4]...مسند ابی یعلی، جلد:3، صفحہ: 141، حدیث: 3429۔



www.dawateislami.net

منورې آخري سر ته هم تلل وو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به تشريف ورړلو او دخپلو صحابه كرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم تپوس به ئې كولو.[1]

❁ مشهور مُفَسِّرِ قُرآن حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخلاقِ كريمه نه دي چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر مالداره او غريب تپوس له د هغوئي كور ته تشريف ورړلو.[2] ❁ د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک دا وو چې كله به ئې د مريض د تپوس د پاره تشريف يوړلو نو فرمائيل به ئې: لَابَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ الله (يعني هيڅ باک نشته كه الله پاک اوغواړي نو دا مرض (د ګناهونو) نه پاك كوونكے دے) د يو اعرابي (يعني د كلي اوسيدونكي) د تپوس د پاره ئې تشريف يوړلو نو دا [كلِمات] اوئې فرمائيل: لَابَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ الله.[3]

د مختلفو سنتونو زده كولو د پاره د مكتبةُ المَدينه **بهارِ شريعت** جلد3 نه حِصَّه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو كتاب **550 سنتيں اور آداب** او رساله **بيمار عابد** واخلئ او اولولئ ئې! د سنتو زده كولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو كښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر كول هم ده.

| | |
|---|---|
| لُوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو |
| ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ له د عمل كولو توفيق راعطا كړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]… مسلم،كتاب: جنائز، مريض كى عيادت كا باب ،صفحه:331، حديث:925خلاصةً۔

[2]…مرآة المناجيح، جلد: 2، صفحه:407۔

[3]…بُخاری،كتاب: المناقب، صفحه:919، حديث:3616 ۔



www.dawateislami.net

# د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې

---

1... القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

مونږه ئي هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئي هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵